عمومي اسامبله
امنيت شورا

خپریدل: عمومي
۱ دسمبر ۲۰۲۳
اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**اته اویایمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**په افغانستان کې وضعیت**

**د امنیت شورا**
**اته اویایم کال**

## په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت باندې یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی: پېژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پرېکړه لیک او د امنیت شورا ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) پرېکړه لیک پر بنسټ ترتیب شوی چې په هغه کې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې، د ملې کچې په ګډون، په افغانستان کې د وضعیت او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه راپور ورکړي.

۲. د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر د میاشتې د ۱۸ نېټې را پدیخوا راپور (A/78/361-S/2023/678) له خپریدو راهیسې دغه راپور د سیاسي، بشري، او د بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم: اړوند پرمختګونه

۳. د واک د دریم کال په پیل کې، اوسنې چارواکې خپل مدیریت په سیاسي، امنیتي او اقتصادي برخو کې نوره هم پیاوړې کړې او د حکومتوالۍ د مهمو مسـلو او د ټولنې د شـکایتونو په اړه کورنې اختلافات مدیریت کړي دي. په داسې حال کې چې د پراخ ګډون غوښـتنې له پامه غورځول شـوي دي، دوی، د طالبانو د مشرـ هبت الله اخندزاده په ګډون، خلکو ته د رسـیدو هڅې زیاتې کړې دې. د ښـځو حقونو چاپېریال د عامه ژوند په ټولو برخو کې کوچنې شـوی دی، په داسې حال کې چې د ښـځو زده کړې او کارموندنې په اړه د اوسـنې چارواکو په پالیسـیو کې کوم بدلون نه دی راغلی، د ملګرو ملتونو سره د افغان ښـځینه کارکوونکو پر کار باندې کلک بندیزیونه اوس هم دوام لري. یوناما د بشرــي حقونو د تېریو او سرغړونو د باور ړو تورونه په دوامداره توګه ترلاسه کړی، او د اوسنې چارواکو سره د هغو د تایید، راپور ورکولو او ښکیلتیا کار ته دوام ورکړی دی. په عراق او شام کې د اسـلامي دولت، د خراسـان څانګې ته منسـوب امنیتي پېښېـ او بریدونه دوام لري. دغه هیواد د بشرـی اړتیا له بې ساري کچې سره مخ دی او د ده د وګړو دوه پر دریمه برخه، د تمویل د پام وړ کمښت سره سره، مرستو ته اړتیا لري کوم چې د هېواد په لویدیځ سـیمو کې په تېرو نږدې وختونو کې د سـترو زلزلو، د پاکسـتان څخه د افغان ناقانونه او بې اسـنادو کډوالو په زوره بېرته ایستل او نامعلوم اقتصادي لېرلید، چې د سقوط د ستر ګواښ په کټګوري کې راځي، له امله لازیات شوی دی.

**الف. سیاسي تحولات**

۴. د راپور ورکولو دورې په جریان کې، د طالبانو رهبري د یوې پراخ هوډ په ترڅ کې خلکو ته د رسـیدو هڅو ته وده ورکړې، چې په هغه کې د یووالي په پیاوړتیا او د اوسـنۍ د چارواکو او خلکو ترمنځ د واټن په له منځه وړلو باندې ټینګار درلود. د طالبانو رهبر د سـپټمبر د میاشـتې په ۱۴ نېټه د اروزګان ولایت او د سـپټمبر د میاشـتې په ۲۱ نېټه د نیمروز ولایت ته سـفر وکړ چې په کندهار کې د هغه د استوګن ځای څخه د خوځښت څرګندوي دی. همدارنګه هغه د سپټمبر د میاشتې په ۱۹ او ۲۹ نېټو د کندهار په ولایت کې د دوو روغتونونو څخه هم لیدنه وکړه.

۵. د راپور ورکولو په دوره کې، د صـدر اعظم مرسـتیال عبدالسـلام حنفي، د اوسـنۍ چارواکو د صـدراعظم مرسـتیال عبدالکبیر د نشـتون له امله، د عامه خلکو سره د غونډو لړۍ ته دوام ورکړ. د اوسـنۍ چارواکو لخوا ډېری په سـیمه ایزه توګه عامه ناسـتې د پوهنې، لوړو زده کړو، د امر بالمعروف، قبایلو او سرحدونو چارو او اطلاعاتو او کلتور وزارتونو له خوا ترسره شـوي دي. په سـیمه ییزه حکومتولۍ باندې د تمرکز سربېره، د اوسـنۍ چارواکو یو شـمېر مهم شـخصـیتونه د شـیعه هزاره او سیکانو له استازو سره هم ناستې تر سره کړل کوم چې د کابل ښاروالۍ په څوکیو دوي ته تخصیص شوي وو. په هرصورت، میرمنې په پراخه کچه د دې عامه ناسـتو په فعالیتونو کې شـامل نه وو، او کلیدي موضـوعات، د ساري په ډول، د ښځو د عام شمولیت، زده کړې او کارموندنې په برخو تګلارې په عامه ناستو کې په واضح ډول تر بحث لاندې نه وو نیول شوي.

۶. په هرات ولایت کې د اکتوبر د میاشتې په ۷ نېټه کې د ستري زلزلې په غبرګون کې، د طالبانو یو شمېر لوړ پوړو مشرانو د متاثره ولسوالیو څخه لیدنه ترسره کړل چې په هغه کې د اوسنۍ چارواکو د صدر اعظم مرستیالانو حنفي او عبدالغني برادر په ګډون، د دفاع او عامې روغتیا وزارتونو سرپرست وزیرانو هم شامل وو. سربېره پردې، د طالبانو مشر اغېزمنو سیمو ته یو پلاوی واستوي چې اغېزمنو خلکو ته د ډاډګیرنې او مرستې پیغام ورسوي.

۷. له پاکستان څخه ناقانونه او بې اسنادو افغانانو د اجباري راستنیدو په غبرګون کې، د اکتوبر د میاشتې په ۲۶ نېټه د طالبانو مشر د راستنیدونکو لپاره اوسنۍ چارواکو عالي کمیسیون جوړ کړ، چې مشري یې د لومړي وزیر مرستیال حنفي کوي او د ۳۱ لوړ پوړو چارواکي په کې ګډون لري چې د بېرته راستنیدونکو ننکونې ته رسیدګي وکړي. له یوې اونۍ څخه په کمه موده کې، اوسنۍ چارواکو د ډېری سرپناه جوړښتونو هدایت ورکړ او د ټول دولت چلند تګلاره پیل کړ تر څو د پاکستان څخه د ډله ییز راستنېدونکو چارو ته رسیدګي وکړي. همدارنګه د غبرګون پلان ۱۲ فرعي کمیټې هم وټاکل ترڅو د یو لړ اړوندو مسلو ته، د ټرانسپورټ، روغتیا، تعلیم، کارموندنې، څمکې او سرپناه مسایلو په ګډون، رسیدګي وکړي. د اوسنۍ چارواکې د دفاع وزارت، خپلو اصلي ولایتونو ته د راستنیدونکو په لیږدولو په غبرګون کې مرکزي ونډه لري. د ثبت او راجستر، طبي پاملرنې او د هویت تذکرو د صادرولو سربېره، اوسنۍ چارواکې د راستنیدونکو کورنیو سره د نغدو پیسو مرستې هم کړې دي. د یو ستر اداری غبرګون د یوې برخې په توګه، اوسنۍ چارواکې د ټولو افغان کډوالو د حقونو د دفاع لپاره د یوې کمیټې د جوړولو اعلان هم کړي دی.

۸. د راپور ورکولو په موده کې، د طالبانو مشر او د اوسنۍ چارواکو لومړي وزیر، ملا محمد حسن اخند، د هغو کسانو تغیر او تبدیل کار ته دوام ورکړ چې مشرتابه ته ښه وفاداري لري. په ملي کچه، په دې کې د اکتوبر د میاشتې په ۲۲ نېټه د افغانستان بانک د رئیس د دویم مرستیال محمد اخند ټاکل شامل دی. په ولایتي کچه کې دغه تغیر او تبدیل صورت نیولی دی: د اوسنۍ چارواکو ۶ ولایتي والیان، ۴ مرستیال والیان، ۲ د ولایتونو ښاروالان، لږ تر لږه ۳۵ ولایتي رئیسان او ۹ ولایتي قاضیان. په وزارتونو کې لږ تر لږه ۴۰ تنه رئیسان تغیر او تبدیل شوي دي. په امنیتي سکتور کې شپږ نوي امنیه قومندانان، دوه مرستیال امنیه قومندانان، څلور نوي د ولایتي استخباراتو رئیسان او یو د قول اردو قومندان تغیر او تبدیل شوي دي. د سپټمبر د میاشتې په ۱۹ نېټه، د اوسنۍ چارواکو د کابل ولایت امنیه قومندان د خپل تر واک لاندې په ۲۶ بستونو کې بدلون راوست. په بیلا بیلو

وزارتونو او ښاروالیو کې د اوسنې چارواکو مسلکي او تخنیکي روزنیز ناستې تر سره شوي دي چې د اداري ظرفیتونو په لوړولو باندي تمرکز درلود.

۹.	د وطن څخه لېري سیاسي اپوزیسیون تیت او پراګنده دې، مګر په کورنیو او بهرنیو چارو کې د طالبانو په ننګولو کې ډیر فعال شوي دي. د راپور ورکولو دورې په جریان کې، د نومبر له وروستیو ورځو څخه د دسمبر د میاشت تر پیل پورې په مسکو، دوشنبې او ویانا کې د مخکې پلان شویو غونډو کې ناستې ترسره کړې.

۱۰.	د حکومتولۍ کاری چوکاټ تر تدوین لاندي دی. د سپتمبر د میاشتې په ۱۷ نېټه، د اوسنې چارواکو ویاند، ذبیح الله مجاهد خلکو ته ډاډ ورکړ چې د اوسنې چارواکو لخوا د اساسي قانون تصویب به د حکومتولۍ ځینې موجوده ننګونو ته رسیدګي وکړي. په غبرګون کې، شیعه عالمانو ویره څرګنده کړه چې روانه پروسه به د دوی ګټو ته پام ونه کړي. ویاند همدارنګه د سپتمبر د میاشتې په ۲۹ نېټه اعلان وکړ چې بودیجه د اوسنې چارواکو په وزارتونو او ولایتي ادارو ته ویشل شوي دي، ، پرته له دې چې د بودیجې ارقام او یا د منځنۍ دورې بیاکتنه مشخص کړي.

۱۱.	د سپتمبر په میاشت کې، اوسنې چارواکې په بامیان، دایکندي، غور، لوګر، وردګو او نورستان ولایتونو کې د ولایتي علماو شوراګانود جوړولو اعلان وکړ، چې په دې توګه یې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې خپل تاسیس بشپړ کړ او په ځینو کې یې د سیمه ایزو شخړو د حل ظرفیت پیاوړی کړ. په هیڅ یو دغه شوراګانو کې، د بامیان او دایکندي په شمول چې د شیعه میشته ولایتونو په شمېر کې راځې، یو شیعه او یا ښځینه استازی شتون نه لري. د سپتمبر د میاشتې په ۲۰ نېټه د افغانستان د شیعه علماوو شورا د اوسنې چارواکو څخه وغوښتل چې د وروستیو اعلان شویو شوراګانو پر غړیتوب له سره بیا کتنه وکړي. په نورو ولایتونو کې هم شیعه استازو د خپلو ولایتونو په علماوو شوراګانو کې د شیعه ګانو د استازیتوب غوښتنه وکړه.

۱۲.	د ښوونې او روزنې متنونه ښځو او نجونو ته د ثانوي او دریمې درجې زده کړو ته لاسرسي، د دیني او عصري زده کړو ترمنځ د واټن په له منځه وړلو باندې ټینګار کوي. د نومبر د میاشتې په ۶ نېټه د بهرنیو چارو سرپرست وزیر امیر خان متقي له رسنیو سره په مرکه کې وویل چې د ښځو د زده کړې موضوع د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو له خوا تر ارزونې لاندي دی. اوسنې چارواکې د خپل تعلیمي پروګرام د یو مهم عنصر په توګه د مدرسو ودې ته دوام ورکړی دی. د پوهنې سرپرست وزیر په ټول افغانستان کې په عام محضر کې د ښکاره کیدو پر مهال، په دولتي ښوونځیو او مدرسو کې یې د عصري او دیني علومو پر تدریس ټینګار وکړ تر څو د دوی ترمنځ واټن له منځه یوسي. اوسنې ولایتي چارواکې د نارینه او ښځینه زده کونکو لپاره د نویو مدرسو د جوړولو کار پیل کړی چې په راتلونکي کې د دا ډول لا زیاتو مدرسو جوړول په پلان کې لري، خو نجونې په ښوونځي کې د ابتدایي کچې زده کړې ته محدود پاتې دي.

۱۳.	اوسنې چارواکې د معاصر تعلیم سیسټم بیا رغولو ته ادامه ورکړی دی، د طالبانو غړو ته یې د زده کړې نوي فرصتونه برابر کړي دي او د ښځو او نجونو لپاره یې فرصتونه محدود کړي دي. د راپورونو له مخې د اوسنې چارواکو د پوهنې وزارت په هغه نارینه او ښځینه ښوونکي چې پخوا د ښوونکو د روزنې په مرکزونو کې ګمارل شوي وو، خو د جولای په میاشت کې نورو ځانګو، ښوونځیو او مدرسو ته مدغم شول، په بیا ارزولو باندي بوخت دی. د سپتمبر د میاشتې په ۴ نېټه، د اوسنې چارواکو ملي ازمویني اداري د هیواد د پوهنتونونو لپاره د کلنۍ ازموینې پایلې اعلان کړ. د ټولټال ۸۴۲۳۴ تنه لیسې فارغینو ګډونکوونکو څخه هیڅ یوه ښځینه نه وه.

۱۴.	د اوسنې چارواکو په وینا، د ښځو په ګډون د ټولو ملکي کارکوونکو معاشونه چې په کور کې د پاتې کیدو امر شوی وو، ادامه ورکول کیږي. د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د سپتمبر په لومړیو کې اعلان وکړ چې د دوی او د جمهوریت د شهیدانو او معلولینو د کورنیو تادیات پروسس کړي دي، په داسې حال کې چې د جمهوریت د دورې د دولتي متقاعدینو تقاعد لا تر اوسه نه دی ورکړ شوی.

۱۵.	د سپتمبر د میاشتې د ۷ او ۱۳ نیټې ترمنځ موده کې، د اوسني چارواکو د عدلیې وزارت د مدافع وکیلانو د ریاست د څارنې هئیت د راپور پر بنسټ د کابل په ښار کې ۸۳ داروکالې تفتیش کړي دي، ۱۰ داروکالې د غیر قانوني فعالیت په تور تړلې او د هغوی مالکینو ته یې د حاضریدو اطلاعیه ورکړې دې. د سپتمبر د میاشتې په ۱۰ نېټه د فرمانونو او حکمونو د څارنې او تعقیب عالي ریاست یو متحد المال خپور کړی دی چې خپلو ولایتي دفترونو ته یې لارښوونه کړې چې د هغه فرمان د سرغړونې راپور ورکړي چې د اوسني چارواکو په ادارو کې خپلوي منع کوي. خو په عین وخت کې متحدالمال په ځینو شرایطو کې اوسني چارواکو ته اجازه ورکړې چې خپل خپلوان په ځانګړو دندو لکه، د پخلي، چلوونکي او ساتونکي په ډول، په کار وګماري.

۱۶.	د اګست د میاشتې د ۱۸ نېټې څخه بیا د اکتوبر د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما په ۱۶ ولایتونو کې د بشری حقونو او خدماتو وړاندې کولو په ګډون د حکومتدارۍ اړوند مسلو په اړه ۴۵ د پوهاوي غونډې جوړې کړې. په دې غونډو کې اوسني چارواکو، مدني ټولنو، رسنیو، ځوانانو او د ټولنې نورو غړو برخه اخیستې وه. اوسني چارواکو د سپټمبر له ۱۸ راهیسې په ټول افغانستان کې د سیمه ایزو علماوو او قومي مشرانو سره په ګډه، د ۱۰ سیمه ایزو شخړو منځګړیتوب کړي دي. د یوناما دفتر د اوسني چارواکو لخوا د ټولنو سره ۱۱۷ ترسره شویو غونډو کې لیدنې ترسره کړې، چې په هغه کې د سیمه ایزو اړتیاو او د قومونو تر منځ تاو تریخوالي موضوعات هم شامل وو. ځوانان هم د کاري فرصتونو د نشتوالي، مدني ټولنې، د مدني ټولنې استازیتوب، چې د مدني چاپېریال کوچنې کیدو، مدنې ټولنو، رسنیو او ښځینه کارکوونکو ته د ګواښونو څخه سرچېنه اخلې، خپلې اندیښنې څرګندې کړې دي. همدارنګه یوناما د اکتوبر د میاشتې د ۵ نېټې څخه بیا د نوامبر د میاشتې تر ۶ نیټې پورې، په افغانستان کې د اقلیم د بدلون د اغیزو او ممکنه حل لارو په اړوند د ډیالوګ شپږ ناستې د سیمه ییزې مدني ټولنې له سازمانونو سره تسهیل کړې دی.

**ب. امنیت**

۱۷.	د اګست د میاشتې د ۱ نېټې څخه بیا د اکتوبر د میاشتې تر ۲۲ نېټې پورې، د جګړو په اړوند د امنیتي پېښو شمېر د ۲۰۲۲ کال د همدې مودې سره برابر و. ملګري ملتونه کابو ۱۴۱۴ امنیتي پېښې ثبت کړې دي، چې د ۲۰۲۲ کال په همدې موده کې د ثبت شویو امنیتي پېښو ۱۳۸۴ وو چې ۲ سلنه زیاتوالی ښیي. تر لاسه شوي معلومات ښیي چې وسله والې نښتې ۴۱ سلنه ټېټه شوي چې له ۱۰۴ پېښو څخه ۶۱ ته رسېدلي دي. د په لاس جوړشویو چاودیدونکو توکو له امله چاودنې له ۶۵ څخه، ۱۸ چاودونو ته ټېټه شوي چې په سلو کې د ۷۲ سلنه کمښت ښیي؛ او قتلونه ۵۰ سلنه راټېټه شوي چې د ۷۴ پېښو څخه، ۳۷ پېښو ته کمه شوي ده. شمال ختیځ، لویدیز او ختیځې سیمو کې د ثبت شویو پیښو ۴۹ سلنه ترسره شوي چې په هغه کې د هرات، کابل، کندز او ننګرهار ولایتونه تر ټولو ډیر اغیزمن شوي دي. د اوسني چارواکو لخوا نیول او توقیفول د ۲۰۲۲ د ورته مودې په پرتله، ۲۵ سلنه ډیره شوي ده.

۱۸.	د ۲۰۲۲ کې د ورته مودې په پرتله، د راپور ورکولو په موده کې وسله والو مخالفینو د اراضی د کنټرول په اړوند طالبانو ته کومه ننګونه نه ده کړې. د ۲۰۲۲ کې د ورته مودې په پرتله، پر اوسني چارواکو باندې د واقعي بریدونو شمیر لږ وو، سره له دې چې په ټولنیزو رسنیو کې د دغو ډلو لخوا ادعا شویو بریدونو شمیر کې زیاتوالی راغلي وو. د راپور ورکولو په موده کې د افغانستان د ازادۍ جبهه تر ټولو فعاله مخالفه ډله وه، سره له دې چې بریدونه یې په ټېټه کچه کې وو، په داسې حال کې چې د ملي مقاومت جبهه د ۲۰۲۲ کال د ورته مودې په پرتله کې ډېره کمه فعاله وه، چې په خپل ځایي پیاوړې مرکز پنجشیر کې هیڅ برید نه دی ترسره کړی. د راپور ورکولو په موده کې، څلور نور وسله والې سیاسي مخالف ډلې خپل شتون اعلان کړ – د افغانستان د ملي محافظت جبهه، د ملي تحریک جبهه، د ملي مبارزې جبهه او د افغانستان متحده جبهه – چې تر دې دمه د وروستیو دوو ډلو له خوا د بریدونو ادعا نه دی شوې.

۱۹. د راپور ورکولو دورې په جریان کې، د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګه – داعش - لخوا ادعا شوي یا منسوب شوي بریدونه کم شوي دي، که څه هم د اکتوبر د دویمې نیمايي راهیسې د دوي په بریدونو کې زیاتوالی راغلی دی. د اګست د میاشتې د ۱ څخه بیا د نومبر د میاشتې تر ۷ نېټې پورې، ملګرو ملتونو په دریو ولایتونو کې د داعش ۸ بریدونه ثبت کړي، چې د ۲۰۲۲ کال په ورته موده کې په شپږو ولایتونو کې ۲۷ بریدونه ثبت شوي وو. د اکتوبر د میاشتې په ۱۳نېټه کې د پلخمري (بغلان) ولایت کې د شیعه ګانو پر عبادت ځای، د اکتوبر د میاشتې په ۲۶ نېټه د کابل ښار د دشت برچي په سیمه کې د شیعه ګانو پر یوه ورزشي کلب او په همدې سیمه کې د نومبر د میاشتې په ۷ نېټه پر یوه بس برید شامل دي. د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګه خپل پروپاګند ته په آنلاین توګه په زیات شمېر ژبو کې دوام ورکړي او همدارنګه ډله هڅه کوي چې بهرني او هم افغان وګړي استخدام کړي.

۲۰. د هیواد په پولو کې د امنیتي پیښو له امله تاوتریخوالی دوام لري، چې ډیری یې د افغانستان او پاکستان ترمنځ دي. د سپټمبر د میاشتې په ۶ نېټه، د تورخم پولې ته څېرمه د سرحدي پوستې د جوړولو پر مهال د سرحدي ساتونکو ترمنځ د ډزو له امله ۶ تنه ووژل شول او ۱۲ تنه نور ټپیان شول، او له دې امله دغه پوله د سپټمبر د میاشتې تر ۱۵نېټ پورې تړلې پاتې شو. د اکتوبر د میاشتې په ۴ نېټه، د پاکستان سرحدي ځواکونو او د اوسنۍ چارواکو د امنیتي ځواکونو تر منځ د چمن پر پوله باندې نښته وشوه چې له امله یې دوه ملکي وګړي ووژل شول او درې تنه نور ټپیان شول. د تحریک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) د پولې پورې غاړې فعالیتونو دغه کړکېچ زیات کړی دی، په ځانګړې توګه د پاکستان په چترال سېمه (خیبر پښتونخوا صوبه) کې د ټي ټي پي د اړوندو کسانو له خوا د یو لړ سختو بریدونو وروسته، کله چې د سپټمبر په لومړیو کې دوي له افغانستان څخه پاکستان ته ننوتل. په پکتیا کې د پولو په اوږدو کې د ټي ټي پي د غړو او پاکستاني ځواکونو ترمنځ ډزې وشوې، او پاکستاني ځواکونو د راپور ورکولو په موده کې لږ تر لږه اوه ځله د پولې له هغې غاړې د کونړ پر ولایت باندې د هاوانونو ډزې کړې دي.

۲۱. د وسلو، مهماتو او چاودیدونکو توکو انتقال په افغانستان کې دننه او په سیمه کې د غړو هیوادونو لپاره یوه امنیتي اندیښنه وه. یوناما د کوچنیو وسلو او سپکو وسلو د مسلې په اړه خپل تعامل ته دوام ورکړی، په کابل، کندز او بدخشان کې یې له چارواکو او د سیمه ییزو غړو هېوادونو له استازو سره د دغې ستونزې د حل لپاره د هڅو ملاتړ کړی دی. د اوسنۍ چارواکو امنیتي ځواکونه په ۱۴ ولایتونو کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو اړوند د قاچاق شویو وسلو د نیولو خبر ورکړی دی.

۲۲. د اګست د میاشتې د ۱ نېټې څخه بیا د اکتوبر د میاشتې تر ۲۲ اکتوبر پورې، ملګرو ملتونو ۲۴ پیښې مستند کړي چې په مستقیمه توګه د دوي پر کارکوونکو باندې اغیزه کړې، چې په هغه کې ۱۱ د ګواښنې پیښې، ۴ د جرم پورې اړوند پیښې، ۱ نیول او ۸ نورې پیښې چې د ملګرو ملتونو ودانۍ او ملکیتونه اغیزه کړي دي، شامل دي. دغه شمېره په ۲۰۲۲ کال کې د ورته مودې په پرتله چې د ثبت شویو پیښو شمېره ۲۷ وه، کموالی څرګندوي.

### ج. سیمه ییزه همکاري

۲۳. سیمه ایزو فعالینو د افغانستان په اړه دوه اړخیزو او څو اړخیزو تعامل ته دوام ورکړ. د اګست د میاشتې په ۳۱ نېټه د اسلامي همکاریو سازمان یوه پلاوي په کابل کې د لومړي وزیر له مرستیال مولوي کبیر او د بهرنیو چارو له سرپرست وزیر سره وکتل. د راپورونو له مخې پلاوي چارواکو ته سپارښتنه وکړه چې، د ښځو د تعلیم او کارموندنې په ګډون، په ټولو برخو کې د اسلامي نړۍ له تجربو څخه ګټه واخلي.

۲۴. د سپټمبر د میاشتې په ۲۹ نېټه د فدراتیف روسیې په کازان ښار کې د افغانستان په اړه د مسکو فارمت جوړه شوه، چې د چین، هند، ایران اسلامي جمهوریت، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، فدراتیف روسیه، تاجکستان، ترکمنستان او

ازبکستان د غړي په توګه، او د قطر، سعودي عربستان، ترکیه او متحده عربي امارات د مېلمنو په توګه ګډون درلودل. د بهرنیو چارو د وزیر په مشرۍ د اوسني چارواکو یوه پلاوي هم ګډون درلود. وروسته د "کازان اعلامیه" د مخدره توکو پورې اړوند جرمونو او تروریزم سره د مبارزې په ډګرونو کې، او همدارنګه په افغانستان کې د ټولیز امنیت ښه کولو په اړوند د اوسني چارواکو هڅې تایید کړې، پداسې حال کې چې د ښځو د کارکولو او د نجونو د زده کړې محدودیتونو په اړه خپله اندیښنه څرګنده کړه او د ټول شمول او پراخ بنسټه حکومت لپاره د هڅو غوښتنه وکړه.

۲۵. په سیمه ییزه اجنډا کې سوداګرۍ او ترانزیت د پام وړ ځانګړتیاوو د عنصر په ډول پاتې و. د نومبر د میاشتې د ۴ نېټې څخه بیا تر ۱۰ نېټې پورې د اوسني چارواکو د لومړي وزیر مرستیال ملا برادر په مشرۍ یو لوړ پوړی پلاوی د ایران له اسلامي جمهوریت سره په اقتصادي او سیاسي اړیکو په خاطر، دغه هېواد ته سفر وکړ. د اکتوبر د میاشتې په ۷ نېټه د اوسني چارواکو د بهرنیو چارو سرپرست وزیر په چین کې د ترانز همالیا په دریم فورم کې ګډون وکړ. هغه د اقتصادي اتصال د سیمه ییز مرکز په توګه د افغانستان پر ظرفیت او د واخان دهلیز پر ظرفیت ټینګار وکړ چې افغانستان او چین سره نښلوي. د نوموړي د فورم په څنډه کې، سرپرست وزیر د چین د بهرنیو چارو له وزیر وانګ یي سره وکتل، چې هغه هیله څرګنده کړه چې چین غواړي له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا او د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو په برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي، او په ورته حال کې هیله څرګنده کړه چې اوسني چارواکي د تروریزم سره د مبارزې په اړوند کوټلي ګامونه واخلي. همدارنګه نوموړي د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر جلیل عباس جیلاني سره هم وکتل چې دواړو خواوو موافقه وکړه چې هېوادونو تر منځ هر ډول ستونزې د خبرو او تفاهم له لارې حل کړي. د اکتوبر د میاشتې په ۱۸ نېټه د اوسني چارواکي د سوداګرۍ او صنایعو وزیر نورالدین عزیزي په بېجینګ کې د یو کمربند او یوې لارې د نړیوالې همکارۍ په درېیم فورم کې ګډون وکړ او د یو کمربند او یوې لارې په نوښت کې یې د افغانستان د رسمي یوځای کېدو غوښتنه وکړه. د دې ترڅنګ د اوسني چارواکو د ریل پټلۍ د ادارې مشر د اګست د میاشتې د ۲۸ نېټې څخه بیا د سپټمبر د میاشتې تر ۲ نیټې پورې د ایران له اسلامي جمهوریت څخه لیدنه وکړه او د اکتوبر د میاشتې په ۲۵ او ۲۶ نېټه کې د فدراتیف روسیه د استراخان ښار کې د شمال – جنوب د ترانسپورت د نړیوال دهلیز په نړیوال فورم کې ګډون وکړ چې د اورګاډي د نښلولو پر موضوع باندي بحث وکړي. سیمه ییزو او نورو هیوادونو او سازمانونو د ټول شموله حکومتولۍ، بشري حقونو، ښځو حقونو، له تروریزم سره مبارزې، د پولو امنیت، له نشه یي توکو سره مبارزې او اقتصادي همکاریو په اړه له مباحثو سره د افغانستان په اړه دوه اړخیز او ګڼ اړخیز تعامل جاري ساتلی دی. د مې د میاشتې په ۲۵ او ۲۶ نېټه، د اروپايي اتحادیې او د افغانستان لپاره د مرکزي اسیا ځانګړو استازو څلورمه ناسته د مرکزي اسیا هیوادونو، اروپايي اتحادې او یوناما د استازو په ګډون، په عشق آباد کې ترسره شوه. استازو یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې له طالبانو یې غوښتنه کوله چې د ښځو او نجونو د زده کړې، کار او په عامه ژوند کې د ګډون پر حقونو رامنځ ته شوي ټول بندیزونه لرې کړي، او یو ټول شموله حکومت رامنځ ته کړي. ګاونډیو هیوادونو همدارنګه د قوش تیپې کانال په اړه، کوم چې اوسني چارواکي نیت لري چې له آمو سیند څخه اوبه را وګرځوي، خپلې اندېښنې مطرح کړې.

۲۶. د ازبکستان د لومړي وزیر د مرستیال جمشید خواجیوف په مشرۍ یو لوړ پوړی پلاوی د اکټوبر د میاشتې په ۲۸ او ۲۹ نېټه د کابل څخه لیدنه ترسره کړه چې د اقتصادي اړیکو په اړه خبرې وکړي. د سپتمبر د میاشتې په ۱۵ نېټه د ازبکستان ولسمشر شوکت میرضیایف د منځنۍ اسیا پر اوبو د قوش تیپې کانال د اغیزو د مطالعې لپاره د یوې ګډې کاري ډلې وړاندیز وکړ. اوسني چارواکو د اکتوبر د میاشتې په ۸ د کابل او چین د شانګهای ترمنځ د هوايي دهلېز او د افغانستان، ازبکستان، قرغزستان او چین ترمنځ د هایبرډ دهلیز په ګډون، د نویو سوداګریزو لارو د پیلېدو خبر ورکړ چې د ۲۰۲۲ کال په وروستیو کې د یوې ازمايښتي پروژې له عملي کېدو وروسته پلې شوي و.

۲۷. د سپتمبر د میاشتې په ۱۳ نېټه، په افغانستان کې د چین د هېواد نوي سفیر ژاو شینګ خپل ډیپلوماتیک باور لیک د اوسني چارواکو لومړي وزیر ته وړاندې کړ. د اکټوبر د میاشې په ۲۷ نېټه د اوسني چارواکو د بهرنیو چارو سرپرست وزیر، مولوی

بدرالدین حقاني په متحده عربي اماراتو کې د افغانستان د سفارت د چارو مسؤل په توګه وټاکه. د طالبانو وياند د ۲۰۲۱ کال د اګست له میاشتې راهیسې په بهر کې د افغانستان په سفارتونو کې د ۱۷ د چارو د مسؤلانو د ګمارنې خبر ورکړی، چې د قونسلګرۍ د خدمتونو په وړاندې کولو کې بوخت دي. د راپور ورکولو په دوره کې، د راپورونو له مخې، په مالیزیا، د هالنډ په پادشاهۍ هېواد او هسپانیه کې قونسلګرۍ خدمتونه بیا پیل شوي دي.

۲۸.    د اکتوبر د میاشتې په ۲۴ نېټه، په اسلام آباد کې میشت د څېړنې او امنیتي مطالعاتو مرکز د "افغانستان کې د ښځو حقونه - سیمه ییز لید او د اسلامي نړۍ ونده" تر سرلیک لاندې یو مجازی نړیوال کنفرانس جوړ کړ چې د افغانستان، اندونیزیا، ایران اسلامي جمهوریت، پاکستان، تاجکستان او ازبکستان هېوادونو څخه مخه ور مشر مېرمنو په کې ګډون کړي وو. کنفرانس د سولې او هوسایښې لپاره د تصمیم نیولو په بهیر کې د ښځو د ګډون پر اهمیت ټینګار وکړ.

۲۹.    یوناما د سیمه ایزو همکاریو په اړه د اوسني چارواکو سره ښکیلتیا ته دوام ورکړی او په کابل کې میشتو سفیرانو سره د منظم همغږۍ ناستې کوربه توب کړی دی. د نومبر د میاشتې د ۶ نېټې څخه بیا تر ۸ نېټې پورې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې، روزا اوتونبایوا، د سعودي عربستان په جده ښار کې د اسلامي همکاریو د سازمان له خوا د «اسلام کې ښځې: وقار او ځواکمنتیا» تر عنوان لاندې په یوه نړیوال کنفرانس کې ګډون وکړه. همدارنګه یوناما د منځنۍ اسیا لپاره د ملګرو ملتونو د مخنیوي ډیپلوماسۍ له سیمه ییز مرکز سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي او د منځنۍ اسیا د هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په کلنۍ غونډه کې چې د دغه مرکز له خوا تنظیم او د نومبر د میاشتې په ۲۷ او ۲۸ نېټه کې په بشکیک کې جوړه شوې وه، ګډون وکړ.

## دریم: بشري حقونه

۳۰. ناچاودیدونکې توکې او عمومي بریدونو چې په هغه کې د په لاس جوړ چاودیدونکي توکې کارول شوي دي، په افغانستان کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې اصلي عامل په ډول پاتې دی. د راپور ورکولو په موده کې یوناما لږ تر لږه ۱۹۰ د ملکي وګړو د تلفاتو پېښې ثبت کړیدي (۶۵ وژل شوي او ۱۲۵ تنه ژوبل شوي). د ملکي تلفاتو په دغه شمېره کې ۵۳ ماشومان دي (۲۶ تنه وژل شوی او ۲۷ تنه ژوبل شوي دي) چې د ناچاودو توکو له امله د زیات شمېر ماشومانو د مرګ ژوبلې لامل شوی دی. دا ډول دري بریدونه د کابل او بغلان په ولایتونو کې د شیعه میشتو سېمو کې ترسره شوي. د ټولو بریدونو مسؤلیت د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګه داعش منلی دی چې د راپور ورکولو په دوره کې د زیات شمېر ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوي دي (۳۹ تنه وژل شوي او ۸۷ تنه ژوبل شوي دي).

۳۱. د جولای د میاشتې د ۱ نېټې څخه بیا د سپتمبر د میاشتې تر ۳۰ نېټې پوري موده کې، په هېواد کې د ماشومان او وسله واله جګړه، د هېواد په کچه د ځارنې او راپور ورکولو کاري ډله لږ تر لږه ۴۰۰ جدي سرغړونې د ۱۲۰ ماشومانو په وړاندي ترسره کړي دي (۱۰۰ تنه هلکان او ۲۰ تنه نجوني). تر ټولو متعارف سرغړونو کې بشري مرستو ته د لاسرسي څخه مخنیوي کولو د پېښو په ګډون، د وژنې او معیوبولو پېښې شامل دي چې زیاتره یې د ناچاودو توکو، په کار ګمارلو او یا کار اخیستلو له امله وو.

۳۲. وروسته له هغه چې د یوناما ماموریت د پخواني حکومت د چارواکو پر خلاف او همدارنګه د ملي امنیتي او دفاعی ځواکونو غړو په وړاندې د بشري حقونو د تیري راپور د اګست د میاشتې په ۲۲ نېټه کې خپور کړ، په غبرګون کې د اوسني چاروا کې د لومړي وزیر مرستیال حنفي وویل، د عمومي عفوې په اړوند باید ووایم چې هر ډول غچ اخیستونکې عمل جرم ګڼل شوي او ترسره کوونکې تر عدلي تعقیب لاندې به ونیول شي. خو د راپور ورکولو په موده کې یوناما لږ تر لږه ۱۰ د محاکمې څخه پرته د وژنو پېښې، ۲۱ د خپل سر ګرفتاري او توقیفولو پېښې او ۸ د شکنجې او ناوړه چلند پېښې مستند کړې دي چې د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو پر خلاف تر سره شوي دي. همدارنګه یوناما ۴ له محاکمې پرته وژنې، ۷۹

عمدي ګرفتاري او ۱۵ نور د شکنجې او ناوړه چلند پېښې ثبت کړي چې د ملي مقاومت جبهې او د اسلامي حکومت د خراسان ولایت څانګې ته منسوب افرادو له خوا تر سره شوي دي.

۳۳. اوسنۍ چارواکي په عام محضر کې د جسمي سزا ورکولو ته دوام ورکړي. یوناما لږ تر لږه د ۲۴ تنو نارینه او ۴ تنو ښځې په عامه محضر کې په دُرو وهلو پېښې ثبت کړي دي. د سپتمبر د میاشتې په ۱۷ نېټه د زابل په ولایت کې د ۸ تنه نارینو او یوه ښځېنه د ۲۰ څخه تر ۳۹ دُرو ووهل شول او د اوسنۍ چارواکو له خوا د ۵ څخه تر ۶ کلونو په بند محکوم شول، وروسته له هغه چې دوي په ناقانونه ډوله سره د غیر اخلاقي رابطو، زنا، لاره نیول او د غلا په تورونو محکوم و پېژندل شول.

۳۴. اوسنۍ چارواکو په دې خاطر چې وکولای شي د مخالفت نظریو وړاندي کولو څخه مخنیوي وکړي، د عمدي نیونو او توقیفولو، د رسنۍ شبکو په زوره بندول او د سانسور کار ته دوام ورکړي دي. د اوسنۍ چارواکو د استخباراتو ریاست د سپتمبر او اکتوبر د میاشتو په ترڅ کې د افغان ښځو د خودجوشه تحریک دري تنه غړي او د هغوي خپلوان ونیول و په داسې حال کې چې د دوي پر خلاف کومه ادعا شتون نه لري، دوي تر اوسه هم په توقیف کې دي. همدارنګه دغه ریاست د راډیو نسیم دري تنه کار کوونکې د اوسنۍ چارواکو د نظام پر خلاف د پروپاګند خپرولو په تور ونیول او د دوي راډیویي شبکې فعالیت یې تعلیق کړ. دري تنه کار کوونکې لومړي خوشي شول او وروسته بیا د اکتوبر د میاشتې په ۷ نېټه ونیول شول او د دوي د جملې څخه دوه تنه د اکتوبر د میاشتې په ۱۸ نېټه او دریم کس د اکتوبر د میاشتې په ۲۳ نېټه په ضمانت خوشي شول. د دې برسېره دوي د اکتوبر د میاشتې په ۱۸ نېټه افغان فرانسوي ژورنالست مرتضی بهبودي پس له ۹ میاشتو توقیف څخه خوشي کړل. د اکتوبر د میاشتې په ۲۶ نېټه مطیع الله ویسا د پن پت د غیردولتي موسسي مشر کوم چې د نجونو د زده کړي په خاطر کمپاین کول او د مارچ د میاشتې په ۲۷ نېټه نیول شوي و، له توقیفه خوشي شو. د سپتمبر د میاشتې په ۱۹ نېټه د رسنیو د سرغړونې کمیسیون د اوسنۍ چارواکو د څېنو مسؤلینو سره وکتل تر څو د اوسنۍ چارواکو پلان تر بحث لاندي ونیسي کوم چې په سیاسي ګوند پوري تړلي رسنۍ وارزوي.

۳۵. د اوسنۍ چارواکو د امر بالمعروف وزارت د تنفیذ شویو هدایاتو د پلي کولو په خاطر د نویو هدایاتو صادرولو ته دوام ورکړی دی. د اګست د میاشتې په ۲۶ نېټه د اوسنۍ چارواکو د امر بالمعروف سرپرست وزیر اعلان کړ چې د بامیان په ولایت کې د بند امیر پارک لیدو لپاره ښځې اجازه نه لري چې هغه پارک ته ورشي. د اګست په میاشت کې وروسته له هغه چې سحر او جادو ممنوع اعلان شو، دا مستند شوی دی چې متهم شوي شوي کسان اوس نیول شوي دي.

۳۶. اوسنۍ چارواکي د ښځو او نجونو په وړاندي د محدودیتونو پلي کولو ته ادامه ورکوي. د ښځو عالی تحصیلات او د نجونو لپاره تر شپږم ټولګې پورې د زده کړي تعلیق اوس هم دوام لري خو څېنې نا تایید شوي راپورونه ښيي چې نجونې د هېواد په څېنو برخو کې مدرسو ته ځي او هلته په ټولګې کې سبق وايي چې دغه مدرسې د اوسنۍ چارواکو د پوهنې وزارت له خوا څارل کیږي. د سپتمبر په میاشت کې د اوسنۍ چاروکو د امر بالمعروف وزارت اعلان وکړ چې یوازي په دوو ولایتونو کې (زابل او خوست ولایتونه) ښځې منعه کړاي شوي دي چې د نارینه محرم څخه پرته مارکیټونو ته ولاړ شي او یا خریداري وکړي. هغه آرایشګاه صالونونه چې د جولاي د میاشې د ۲۵ نېټي وروسته فعال وو، د جون د میاشتې د ۲۵ نېټي هدایت پرخلاف، د اوسنۍ چارواکو د غبرګون سره مخ شول او د شخصي برید په ګډون، د مشتریانو څخه غوښتنه کول چې خپل میک اپ دې پروي او وعده دې وکړي چې په راتلونکې کې هېڅ کله د ارایشګاه صالون ته نه راځي.

۳۷. د سپتمبر د میاشتې په ۲۰ نېټه یوناما د اوسنۍ چارواکو په کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو عمومي ریاست او د بندیخانو د نظارت ریاست کې د توقیف شویو او بندي شویو کسان سره د چلند په اړوند خپل راپور خپور کړ. د راپور پر بنسټ، د اوسنۍ چارواکو د کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو د عمومي ریاست کې توقیف شوي کسان په دوامدار توګه شکنجه شوي او نور ناوړه چلند یې تجربه کړي دي. اکثراً توقیف شویو کسانو د پوښتنې او تحقیق پر مهال تر سره شوي کوم چې دوي د مجریانو په ډول هېڅ ډول مسؤلیت نه درلودل. د دې برسېره دغه نهادونه په سیستماټیک ډول سره د خوندیتوب بنسټیز طرزالعملونه

تر پښو لاندي کړي چې په هغه کې د حقوقي مدافع وکيل ته د لاسرسي مخنيوي، د کورني، طبيبان او د اوسني چارواکو د محکمو قاضيان نشتون شامل وو. يوناما د اوسني چارواکو د هر نهاد سره په تعامل کې دی چې د تحقيقاتو او حسابورکوني په ګډون، د دوي توصيي پلي کړي. د اوسني چارواکو د کورنيو چارو وزارت سرپرست وزير دفتر تر څارني لاندي يوه کمېټه رامنځته کړې تر څو په دغه راپور کې موندني باندي بيا کتنه وکړي او په راپور کې د ورکړ شويو توصيو پلي کول په پام کې ونيسي.

۳۸. د هغو دوامدارو هڅو برخلاف، چې بايد د بنديانو شمېر را ټيټ شي، د اوسني چارواکو د بنديخانو د نظارت رياست، د اکتوبر د مياشتې په نيمايي کې راپور ورکړ چې د دوي په بنديخانو کې ۱۷۰۰۰ بنديان شتون لري چې دغه شمېره د۲۰۲۲ کال د نيمايي راپديخوا نهايي سقف ۱۰۰۰۰ تنو ته رسيده. مالي ستونزي او همدارنګه د ډونرانو له خوا د وجهو د ورکولو بنديدل د اوسني چارواکو د بنديخانو د نظارت پر رياست باندي ناوړه اغيزه کړيده چې له امله يې دوي نړيوال معيارونه نشي پلي کولاي چې په هغه کې د کافي خواړه، روغتيايي وسايل او روزنيز مهارتونه او زده کړي او روغتيايي اړتياوي په سيستماتيک ډول برابرول شامل دي.

۳۹.	د نومبر د مياشتې په سر کې، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، د مهاجرت نړيوال سازمان او يوناما انفرادي او ټيلي سروېګاني داير کړي چې په هغه کې د ۳۲ ولايتونو څخه ۳۹۲ تنه ښځې برخه اخېستې دي. د افغان ښځو لپاره د زده کړي او کارکولو باندي د بنديزونو د بېرته اخيستلو موضوع تر ټولو مهم او ستر لومړيتوب درلود، چې تر هغه وروسته د توليد د فرصتونو او اقتصادی ځواکمنتيا شامل وو. زده کړه او کارکول هغه دوه کليدي عناصر دې چې کولاي شي د جسمي او رواني صحت اغيزي کم کړي چې ښوزلې، وختي او يا په ماشوموالې کې ودونو، د ماشومانو کار، کورني تاوتريخوالي او مهاجرت ورسره تړلي دي. مشوره شوي ښځو ټينګار وکړل چې په ټولنه کې پريکړه کول، او همدارنګه په کورني کې د دوي موقف او اغيزمنتيا په لا ښه کولو کې د تحصيل درجه او کار کول مثبته اغيزه لري. دوي په دې باور دې په ځايي کچه کې د ملګرو ملتونو او نړيوالو استازو دفترونه په ښه موقف کې دې چې په نبغه د اوسني چارواکو سره خبري وکړي تر څو خپل هڅو ته دوام ورکړي چې د اوسني چارواکو مشران د ښځو او نجونو په وړاندي د زده کړی او کارکولو باندي بنديزونه بېرته واخلي. د دې برسېره، هغوي د ښځو د سياسي مشارکت د لا زياتولو، د حقوقي خونديتوب، اقتصادی ځواکمنتيا او په مدني خدمتونو کې د ښځو د موقف د بيا احيا کولو لپاره پر عملې ستراتيژيګانو باندي تمرکز پر اهميت باندي رڼا واچول.

**څلورم: اقتصادي پرمختګ، د مرستندويانو همغږي او د مرستو اغيزمنتيا**

۴۰.	اقتصادي وضعيت بې ثباته او ضعيف دی. د افغانستان پرمختيايي تازه معلومات تر سرليک لاندې د نړيوال بانک د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر د مياشتې د ګڼې له مخې، په ۲۰۲۲ کال کې د افغانستان اقتصاد ۲.۶ سلنه کسر درلودلی دی. دغه کچه په ۲۰۲۱ کې ۲۰.۷ سلنه وه. منځمهاله اټکلونه د دوامداره پراخې بې وزلې سره يوځای د رکود يا لا زيات منفي ودې وړاندوينه کړې، او د مرستو په کچه کې د کمښت سربيره په کورني تقاضا کې لږوالی او د پام وړ منفي ودې خطرونه يې هم په ګوته کړې ده.

۴۱.	د مارچ د مياشتې د ۲۱ نېټې څخه د روان مالي کال په لومړيو اوو مياشتو کې، د دولت عوايد شاوخوا ۱،۵ ميلياردہ ډالره (۱۰۵ ميلیارده افغانۍ) وو چې د ۲۰۲۲ کال د همدې مودې په پرتله ۱.۲ سلنه زياتوالی او له هدف څخه ۵ سلنه کم دي. سربيره پر دې چې د جولای له مياشتې راهيسې د امريکايي ډالر پر وړاندې د افغاني ارزښت ۱۲،۷ سلنه لوړ شوی، د سوداګرۍ کسر ۴.۴ ميليارد ډالرو ته لوړ شوی دی. زياتيدونکي سوداګري کسر په دوامداره توګه د وارداتو زياتوالی څرګندوي چې د ۲۰۲۲ کال د ورته مودې په پرتله ۲۷ سلنه زياتوالی سره ۵.۷ مليارد ډالرو ته ختلی دی. صادرات ۱.۳ مليارد ډالرو ته رسيدلې چې د ۲۰۲۲ کال د ورته مودې په پرتله ۰.۵ سلنه لږ کمښت ښيي. د کال په کال ګراني کچه يا انفلاسيون په سپتمبر کې منفي ۹.۱ سلنې ته رسيدلې وه.

۴۲.	د بشري غبرګون هڅو او د خوراکي توکو د بيې کميدو له امله د جولای څخه تر سپټمبر پورې د کورنيو عايداتو او مصارفو کې څه ناڅه پرمختګ نښې ليدل شوې خو بيا هم د عوايدو لړوالی نيمايي خلک اغيزمن کړي دی. جولای تر سپټمبره پورې د نړيوال بانک معلومات ښيي چې د سروې شوي خلګو ۸۹ سلنه خوراکي توکي ترټولو لوی اړتيا بللې ده. د لږ تقاضا په حالاتو کې په کار ځواک کې ډيروالی بيکاري دوه چنده کړې او په لږ استخدام کې د ۲۵ سلنه زياتوالی لامل شوی.

۴۳.	په زيرمو کې د زياتوالي له امله د بانکداری سکتور لږ وده کړې خو په نفع، نغدو ته اړول، بې ثباتۍ او نورو بانکونو سره د اړيکو له لاسه ورکولو د انديښنو سره مخ وو. زيات مالي معاملات د غير رسمي چينلونو له لارې ترسره شوي. د ۲۰۲۱ کال د اګست راهيسې تر ۵۰ سلنې لږ فعال پور اخيستونکو سره د کوچني تمويل سکتور هم منفي وده درلوده او دا پر ميرمنو ناوړه اغيزه درلود.

۴۴.	طالب چارواکو د کورنيو او بهرنيو پانګونو جلبول جاري وساته. د سپټمبر له ۱ تر ۶ نيټې پورې طالب چارواکو د افغان-امريکا د سوداګرۍ خونې يوه پلاوي سره ليدنه درلوده او د سپټمبر په ۱۶ نېټه د پانګونې د ملاتړ لپاره د وزارتونو په کچه د يوې کميټې د تاسيس اعلان وکړ. طالبانو د اګست د ۳۱ او اکتوبر ۱۵ نېټې ترمنځ د ۷ مليارد ډالرو په ارزښت د کانونو په برخه کې د نهو سترو قراردادونو لاسليک کولو راپور ورکړی. د لومړي وزير مرستيال ملا برادر هم د اکتوبر په ۱۱ نېټه د قوش تپې کانال د دويم پړاو د جوړولو افتتاح وکړه.

۴۵.	د تمويل او لومړيتوبونو په اړه هلې ځلې دوام درلودې. د سپټمبر له ۶ څخه تر ۱۲ نېټې پورې، د ځانګړي استازي مرستيال، د استوګنې همغږي کوونکي او د بشري مرستو سرپرست همغږي کوونکي د بشردوستانه او لومړنيو بشري اړتياوو او د مرستندويانو د لومړيتوبونو په اړه د بحث کولو او د بنسټيزو بشري اړتياوو د تمويل د هڅولو لپاره برلين او ستاکهولم څخه ليدنه وکړه. د سپټمبر په ۲۷ او ۲۸ نېټې د افغانستان د همغږۍ ډله د ترکيې په استانبول ښار کې غونډه وکړه. ګډونوالو د ۲۰۲۴ کال لپاره د مرستندويانو د ژمنو ټيټه کچه او د بشري مرستو څخه د لومړني بشري اړتياو تمويل ته د ليږد لپاره د منځمهاله تمويل اړتيا راپه ګوته کړه. سربيره پر دې، دغه ډله په دې سره سلا شوه چې د اقليم سره د سازښت په ګډون د منابعو د متحرک کولو لپاره د نوي ميکانيزمونو په لټه کې شي. په دغه غونډه کې د خصوصي سکټور د بيا راژوندي کولو اړتيا او د تمويل په لارو چارو کې د اقليم د بدلون د اغيزو په وړاندې مقاومت او انعطاف د يوې ډيرې مهمې مسئلې په توګه ومنل شو.

۴۶.	د افغانستان لپاره د ځانګړي امانتي وجهي صندوق د رهبرۍ کميټه د سپټمبر په ۲۵ نېټه په استانبول کې غونډه وکړه او د ۲۰۲۳-۲۰۲۵ کلونو لپاره د افغانستان لپاره د ستراتيژيک چوکاټ سره سم خپل سيمه ايز ګډ پروګرامونه د ۲۰۲۵ کاله پورې وغځاوه. ځانګړي امانتي بسپنه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې د ۱۸۹.۴ ميليون ډالرو مرستې ترلاسه کړې وې او د ننګونو سربيره د ډيرو زيان منونکو افغان ټولنو لومړنيو بشري اړتياوو د مدغم هڅو ملاتړ جاري ساتلی دی.

۴۷.	د نړيوال تمويل لپاره د شفاف او کم لګښته چينل په کارولو سره د نغدو پيسو وارداتو سهولت چې د ملګرو ملتونو له خوا رامينځته شوې، د ۲۰۲۱ د دسمبر د ۱ څخه د ۲۰۲۳ د اکتوبر تر ۱۵ نېټې پورې ۳.۲۳ ميليارد ډالر ليږدول شوي (چې د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ راهيسې ۱.۴ مليارد ډالر وو). له دغه سهولت څخه د ملګرو ملتونو ۱۹ ادارې، نړيوال بانک، د آسيا پراختيايي بانک او ۵۵ تصويب شوي نړيوال غير دولتي سازمانونه ګټه اخيستې ده. دغې نغدې پيسې، په غير مستقيم ډول د افغانۍ د ثبات ملاتړ هم کوي.

۴۸.	يوناما د تخنيکي کاري ګروپونو له لارې د طالبانو له مرکزي بانک سره همغږي ته دوام ورکړ او د نورو مسائلو ترڅنګ، د نړيوالو تادياتو، کوچنيو پورونو، اسلامي بانکدارۍ او د افغانستان وجهي صندوق په اړه وغږيدل. د اکتوبر په ۳۰ نېټه د افغانستان د کوچنيو پورونو ټولنه، د يوناما او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو په همغږي په کابل کې د کوچنيو پورونو په اړه يوه غونډه جوړه کړه. په دغه غونډه کې د طالبانو د مرکزي بانک رييس، د سوداګرۍ او صنايعو وزير او د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مرستيال ګډون درلود. په غونډه کې د سکټور د ننګونو، امکاناتو او فرصتونو په اړه بحث کولو لپاره ټول ښکيل اړخونه

راټول کړي وو. د ملګرو ملتونو ادارې، د سکټور په پیاوړتیا او همدارنګه د ښځو ځواکمنتیا او د بې وزلۍ سره د مبارزې لپاره خپلې مرستې او په دې اړه هغه رول چې دوی کولی شي ترسره کړي، وړاندې کړې.

۴۹. د ملګرو ملتونو د ګډ خطر مدیریت د تګلارې همغږۍ دوام درلود. د سپتمبر په ۲۹ نېټه د افغانستان د همغږۍ ډلې د غونډې په څنډه کې نړیوال بانک او ملګرو ملتونو د ګډ خطر مدیریت په اړه خپل دریم ورکشاپ چې تمویل کونکي هم په کې ګډون درلود، ترسره کړ. ترڅو د خطر مدیریت په اړه تازه معلومات وړاندې او همکارۍ وهڅوي. د نومبر په ۲۲ نېټه ملګرو ملتونو د تصدیو د خطر مدیریت په اړه د بین المللي ادارو، او بیا د نومبر په ۲۹ نېټه، د ګډ خطر ارزونې شپږ میاشتنۍ تازه معلومات ورکشاپ ترسره کړ.

۵۰. د اپریل له ۶ نېټې څخه د اکتوبر تر ۲ نېټې پورې د ماینونو په وړاندې د مبارزې د همغږۍ، لومړیتوب ورکولو او د معلوماتو مدیریت ملاتړ ځنډول شوی وو او په دغه جریان کې د طالبانو سره د مناسبو ترتیباتو په اړه خبرې وشوې. دغه پروژه چې اوس د ماین پاکۍ تخنیکي حجرې په نامه یادیږي، یو ځل بیا په فعالیت پیل کړ، ترڅو د ماین پاکۍ په برخه کې کارکوونکي په خوندي توګه کار وکړي او د چاودیدونکو توکو پر پاکولو تمرکز وشي، چې د ځمکې د کارولو مخه نیسي او لومړني بشري اړتیاوې اغیزمنې کوي. هغو سیمو ته، چې پخوا د لاسرسۍ وړ نه وې، د خلګو ډېر تګ راتګ، د ملکي تلفاتو د زیاتوالي لامل شوی ګرځیدلی دی. ماشومان، په ځانګړې توګه هلکان، د چاودیدونکو توکو تر ټولو ډېر زیان منونکي دي، په دې چې د زاړه فلزي شیانو سوداګریز فعالیتونو له دغه خطر څخه سره تړلي دي. د دې سربېره، ۴۹۶ ښوونځي او ۱۱۹ روغتیایي بنسټونه د چاودیدونکو توکو څخه د یو کیلو متر په فاصله کې پراته دي چې د ماین پاکۍ د سکټور د قوي او همغږۍ غبرګون اړتیا راپه ګوته کوي.

۵۱. د جنسي استحصال او ناوړه ګټه اخیستنې د حل او مخنیوي په برخه کې ملګرو ملتونو پرمختګ درلود. د سپتمبر په میاشت کې د جنسي استحصال او ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي لپاره د افغانستان شبکه د اغیزمنو خلکو سره د حساب ورکونې په اړه د یوې کاري ډلې سره یوځای شوه ترڅو له دې شان مسائلو څخه اغیزمن د ټولنې ۱۰۰۰۰ کسانو ارزونه تر سره کړي. دغې ارزونې شبکې ته دا توان ورکړ چې د ځیرنې او جنسیت پر بنسټ یو پروګرام جوړ کړي او په محلي ژبو کې د هاټ لاین یا ټیلیفوني مشورو خدمت پیل کړي. د اکتوبر له ۱۵ څخه تر ۲۰ نېټې پورې یوه ګډ هیئت د هرات ولایت څخه لیدنه وکړه ترڅو د ټولنې د غړو او روغتیایي همکارانو په شکیلتیا د جنسی استحصال او ناوړه ګټه اخیستنې خطرونه په بیړني غبرګونونو کې په نښه کړي.

۵۲. د اګست د میاشتې څخه تر اکتوبر پورې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي په وړاندې د سپاټ لائټ نوښت په نامه پروګرام چې د دسمبر په ۳۱ نېټه پای ته رسیږي، ۱۰۰۵۱۸ رواني او مشوره یي خدمتونه وړاندې کړي. د اکتوبر په ۲۴ او ۲۵ نېټه، ملګري ملتونه، مرستندویان او پلي کوونکي شریکان کې سره راټول شوي وو ترڅو د یو دوامدار پروګرام طرح رامینځته کړي.

## پنځم: بشري مرستې

۵۳. افغانستان د بشردوستانه اړتیاو له بې ساري کچې سره مخ وو او په ۲۰۲۳ کې د نفوس نږدې اویا سلنه برخه مرستې ته اړتیا درلوده. د خوندیتوب خرابېدونکې فضا او په هرات ولایت کې د اکتوبر میاشت د ۶.۳ درجې درې زلزلو له امله حالات لا خرابه شوه چې په مستقیم ډول په څو ولسوالیو کې د ۱۵۰۰۰۰ څخه ډېر خلک یې اغیزمن کړل. د کلتوري نورمونو او د طالب چارواکو محدودیتونو له امله، د نارینو په پرتله د ښځو په کور کې د پاتې کیدو ډېر احتمال شته. نتیجتاً، د جنسیت او بشردوستانه لاسرسي کاري ډلو د یوې شننې له مخې، ښځې، له دې امله چې د لومړۍ زلزلې پر مهال په کورو کې دننه وې، د لویانو د تلفاتو ۵۸ سلنه او د ټېپيانو ۶۰ سلنه جوړوله. د زلزلې اغیزې د ښځو رواني روغتیا او عمومي هوساینې ته لا زیات زیان رسوي. د دې سربېره، د سپټمبر له نیمایي راهیسې زرګونه بې اسناده افغانان د تورخم او سپین بولدک له پولو، له پاکستان څخه

په زوره راستانه شوي. د اقلیم مخ پر زیاتیدو فشارونو ترمنځ د پرله پسې درېیو کلونو د وچکالۍ اغیزې د خوراکي توکو، معیشت او اوبو نه مصؤنیت د دوام لامل وو سره له دې چې د خوراکي توکو له پلوه حالت څه نا څه ښه شوی دی.

۵۴. د ۲۰۲۲ د ډسمبر په میاشت کې د غیر دولتي موسسو پر ښځینه کارکوونکو، او بیا د ۲۰۲۳ په اپریل کې د ملګرو ملتونو د ښځینه ملي کارمندانو پر کار کولو بندیز وروسته، د جنسیت او بشردوستانه لاسرسي کاري ګروپونو لخوا د جولای په میاشت کې تر سره شوې سروې پر بنسټ، د ۱۵۰ سازمانونو ۲۰ سلنه راپور ورکړی چې ښځینه کارکونکې یې لاهم د کور څخه کار کوي. په ساحه او دفتر کې د ښځو د کار د بیا پیلولو په برخه کې څه پرمختګ شوی. د بندیز راهیسې د ښځو سازمانونو ۴۵ سلنه تمویل ترلاسه کوي چې د مې د میاشت د سروې په پرتله ۱۲ سلنه زیاتوالی ښيي. خو بیا هم سازمانونو د ښځو د شرکت په وړاندې د اداري خنډونو راپور ورکوي. د بندیز اغیزې په بیلابیلو سیمو کې توپیر درلود او په ځینو سیمو کې ټولنیزه ښکیلتیا او د خوندیتوب خدمتونه اغیزمن کړل. د اغیزمنو ټولنو په اړه نظرپوښتنې موندلې چې د تیرو دو مالي ربعو په پرتله ښځې، مرستو ته د لاسرسي په برخه کې له ډیرو ستونزو سره مخامخ دي. له بندیزونو څخه د معافیت په اړه د محلي تړونونو د پیاوړتیا او پراختیا لپاره بشردوستانه ټولنې د طالب چارواکو سره خبرې اترې جارې وساتې. د بنسټیزو بشري اړتیاوو د پوره کولو په موخه ملګري ملتونه د ښځو په مشرۍ او مالکیت د ۱۸۰۰۰ څخه زیاتو سوداګریزو بنسټونو ته د مرستو، د پور اسانتیاو، تخنیکي مرستې او اړینو سرچینو په وړاندې کولو سره د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا هڅوي.

۵۵. بشردوستانه ټولنه د ننګونو سربیره د خطر کمولو د اقداماتو د تطبیق او د با کیفیته پروګرامونو لړ تر لړ معیارونو د ساتلو لپاره د عامو وسیلو په کارولو سره فوري اړتیاوې پوره کوي. خو په ۲۰۲۳ کې د افغانستان لپاره د بشردوستانه غبرګون بیاکتل شوی پلان، چې له مخه یې باید په ټول افغانستان کې ۲۱.۳ میلیون خلکو سره مرسته وشي، په خطرناکه توګه لږ تمویل سره مخا مخ دی. د نومبر تر ۱۱ نېټې پورې، دغه پلان د اړتیا ۳.۲۳ ملیارد ډالرو څخه یوازې ۳۵ سلنه تمویل ترلاسه کړی. د دې سربیره، د نومبر تر ۱۱ نېټې پورې د زلزلې غبرګون پلان (چې د اکتوبر پر ۱۶ نېټه پیل او د نومبر پر ۱۶ نېټه بیاکتنه شوې وه) د ۱۷۳.۶ ملیون ډالرو څخه یوازې ۳۷.۵ ملیون ډالره لاس ته راغلي. د یاد تمویل موخه د ۲۷۵۰۰۰ زلزله ځپلو خلکو سره مرسته ده. د بشري مرستو فعالانو ۲۴۲۴۰۰ اغیزمنو خلکو ته مستقیمو مرستو سره رسیدګي کړې ده چې د ۱۴۲ کلیو ته د څښاک پاکو اوبو د برابرولو په پام کې نیولو سره له مرستو برخمن خلکو شمیر ۲۵۷۸۰۰ ته رسیدلي. د ۲۰۲۴ د جولای تر میاشته پورې د ۷۲۰۰۰۰ بې اسنادو او د ۵۰۰۰۰ داوطلبانه افغان راستنیدونکو سره د مرستې په موخه "د افغانستان - پاکستان سرحدي کنسرسیوم غوښتنه" رامینځته شو.

۵۶. د جنوري او اګست ترمنځ ۲۳.۷ میلیون کسان بشردوستانه مرستې ترلاسه کړې - که څه هم تمویلي محدودیتونو له کبله، خلګو ته مرستې د پلان په مطابق چې د هغوی اړتیاوې پوره کړي، نه وې ورکړل شوې. د خواړه او معیشت په برخه کې ۱۹.۵ ملیون کسانو سره مرسته وشوه، ۱۱.۲ میلیون کسانو سره روغتیایي مرستې وشوې؛ ۴.۳ میلیون ماشومان او تۍ ورکوونکو میندو سره د حاد خوارځواکۍ د مخنیوي او حل لپاره مرستې ترلاسه کړې؛ ۷.۶ میلیون کسانو سره د اوبو، حفظ الصحې او نظافت په برخه کې مرسته وشوه؛ ۲ میلیون ماشومانو زده کړو ته لاس رسي وموندہ؛ ۴۸۶۰۰۰ کسان د بیړني سرپناه او کورني توکو مرسته تر لاسه کړه؛ او ۱.۹ ملیون کسانو ته د خوندیتوب په یو نه یوه برخه کې مرستې برابرې شوې.

۵۷. د جولای او سپتمبر ترمنځ، له ۱.۸ میلیون څخه زیاتو کسانو د کورني خوراکي خوندیتوب څخه برخمن شول. په دغو کسانو کې ۱ میلیون څخه ډیر کسانو سره د کور باغدارۍ په برخه کې مرسته شوې؛ ۲۵۴۵۳۴ کسانو سره د څارویو د ساتنې مرسته، ۱۱۷۹۹۲ کسانو سره د کرنې او د معیشت بدیل مرسته وشوه؛ ۲۸۳۰۸ کسانو په کور کې د چرګانو د ساتنې او تولید لپاره مرستې ترلاسه کړې؛ ۱۵۷۹۲ کسانو سره د کوچني کرنیزو تجهیزاتو سره مرسته وشوه؛ ۲۱۱۵۶۱ کسان د ټولنې زیربناو د بیارغونې لپاره د کار په بدل نغدي پیسې ترلاسه کړې؛ او ۱۸۳۰۶۴ سپین ږیرو/سپین سرو، معلولیت لرونکو اشخاصو، او هغو ښځو یا ماشومانو سره چې د خپلو کورنیو سرپرستي په غاړه لري، د غیر مشروط یا کثیرالهدفي نغدي مرسته وشوه. نوي راپورته کیدونکي ګواښونه لکه د مراکش د ملخانو خپریدل او د څارویو ناروغیانې خوراکي خوندیتوب او د معیشت نازک

وضعیت، چې وار دمخه خراب حالت کې و، اغېزمن کړي. د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د ۱۱۰۴۹۲ کورنیو شاوخوا ۱.۵ میلیونه څاروي د پوستکي د ناروغۍ (تر څرمن لاندې څرګندیدونکي غټې) په وړاندې واکسین شول. په ۱۱ ولایتونو کې ۳۸۶۴ هکتاره مځکه د مراکش د ملخانو په اړه سروې شوې ده.

۵۸. د جنوري له ۱ څخه د اکتوبر تر ۲۱ نېټې پورې، د حاد اسهال چې د بدن اوبه هم په کې ضایع کیږي، ۱۹۰۷۲۴ ناروغان (چې ۵۷ سلنه یې د ۵ کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان وو) راپور شوي. د ناروغانو دغه شمیر د ۲۰۲۲ د مې څخه تر اکتوبر پورې ۲۰۹۰۵۵ (چې ۵۵ سلنه یې د ۵ کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان وو) و. په دغه موده کې د شري ۲۲۴۰۸ شکمن ناروغان (چې ۷۱ سلنه یې د ۵ کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان وو) راپور شوي چې د ۲۰۲۲ د همدې مودې په پرتله ۷۱۰۹۰ (چې ۷۸ سلنه یې د ۵ کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان وو) و. د جنوري او سپتمبر ترمنځ، ملګري ملتونه په ټولو ولسوالیو کې له ۲ میلیونو څخه زیات ماشومان د شري په وړاندې واکسین کړل. په ۲۰۲۳ کې، د وحشي پولیو ویروس ډول شپږ پېښې ثبت شوي چې په ۲۰۲۲ کې دوې پېښې وې.

۵۹. د جولای او سپتمبر میاشتو په منځ کې د شخړو اړوند د صدماتو څخه اغېزمنو کسانو شمیر ۲۶۲۴ و چې د ۲۰۲۲ کال د همدې مودې د ۳۴۶۸ اغېزمنو کسانو د شمیرې په پرتله ۲۴ سلنه کمښت ښيي. د جنورۍ او سپتمبر تر منځ، له ۵۵۳۷۰۰ څخه ډېر ماشومان چې د شدید خوارځواکۍ سره مخ وو په ۱۲۸ د بستري ناروغانو او ۳۱۶۸ غیر بستري ناروغانو طبي تاسیساتو کې داخل او درملنه وشول. په لیرې پرتو سیمو کې خلکو ته د رسیدګۍ په موخه شاوخوا ۴۰۰ ګرځنده د روغتیا او تغذیې ټیمونه فعالیت لري چې هره میاشت شاوخوا ۳۵۰۰۰۰ روغتیایي مشورې ورکوي.

۶۰. د جولای میاشت له ۲۲ نېټې څخه د نومبر تر ۷ پورې، ۵۵۴۴۶۰ کسان افغانستان ته دننه شوي چې ۳۵۲۴۴۰ د ایران اسلامي جمهوریت او ۱۹۹۰۲۰ له پاکستان څخه راستنېدونکي دي. د جون د ۲۲ نېټې څخه د نومبر تر ۶ پورې، له ۲۹۴۸۰۰ څخه زیات بې اسناده راستنیدونکي افغان کډوال په هرات، نیمروز، ننګرهار او کندهار کې د آی او ام (یا د کډوالو نړیوال سازمان) له استقبالي مرکزونو څخه تیر شول. له ۲۲۸۹۰۰ څخه زیات هغه کسان چې غوښتل یې افغانستان ته راستانه شي، د افغانستان له پولو څخه بیرته شړل شوي دي، او له ۳۲۲۵۰۰ څخه ډېر کسان په خپله خوښه افغانستان ته راستانه شوي دي. د سپټمبر له ۱۵ نېټې څخه راپه دې خوا، د پاکستان له هغې اعلامیې سره چې بې اسناده افغانان به وشړل شي، له پاکستان څخه له ۳۷۰۰۰۰ څخه زیات جبري او داوطلب راستنېدونکي کډوال ثبت شوي دي. د راستنیدونکو ورځنۍ اوسط چې د اکتوبر په لومړیو کې له ۲۰۰ کسانو څخه هم کم وو د نومبر په پیل کې شاوخوا ۲۰۰۰۰ ته لوړ شو او بیا نږدې ۵۰۰۰ باندې ثابت پاتې شو. شاوخوا ۷۰ سلنه راستنېدونکي د تورخم له لارې او پاتې ۳۰ سلنه د چمن له لارې افغانستان ته داخلیږي.

۶۱. له پاکستان څخه راستنیدونکو کې شاوخوا ۶۰ سلنه ماشومان او تنکي ځوانان دي چې عمرونه یې تر ۱۷ کاله کم دي او د خپل معیشت لپاره مناسب مهارت یا تجربه نلري. سربېره پردې، ۱۴ سلنه راستنېدونکي هغې ښځې دې چې د کورنۍ سرپرستي په غاړه لري. د کډوالو راتګ سرحدي او هغې سیمې چیرې چې کډوال ورستنیږي ګډوډۍ سره مخ کړې او وضعیت یې چې وار دمخه د ډیرې بېکارۍ، پراخې بې وزلۍ، بنسټیزو خدمتونو ته د ناکافي لاسرسۍ او ناکافي زیربناوو له امله خراب و، لا پسې خرابوي. د دغو حالاتو په غبرګون، بشردوستانه فعالینو مرستې ډیرې کړې او د طبي معایناتو، خوندیتوب، سلا مشورې، حقوقي مرستې، خواړه، ترانسپورت، اوبه، حفظ الصحه او نظافت او د نوم لیکنې خدمتونه وړاندې کوي.

۶۲. د جولای د ۲۶ نېټې څخه د اکتوبر د ۱۸ نېټې ترمنځ، د ملګرو ملتونو د داوطلبانه راستنیدو پروګرام تر لاندې څه د پاسه ۷۰۷۷ افغان کډوال له پاکستان (۶۹۲۷)، ایران (۱۱۲) او نورو هیوادونو (۳۸) څخه راستانه شوي دي. د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ کلونو په پرتله په ۲۰۲۳ کې د کډوالو د راستنیدو سرعت خورا زیات دی. په ۲۰۲۳ کې ملګرو ملتونو په ټول افغانستان کې د بیرته راستنیدو او بیا یوځای کیدو په ۸۰ برتره سیمو کې شاوخوا ۳۰۰۰۰۰ داخلي بې ځایه شویو کسانو، راستنیدونکي کډوالو، پناه غوښتونکو او کوربه ټولنو سره مرسته کړې. په دغو مرستو کې د خوندیتوب څارنه، حقوقي مرستې، رواني مرستې، موسمي ملاتړ، سرپناه او غیر خوراکي توکو چمتو کول شامل وو.

۶۳. د بشردوستانه فعالیتونو په پلي کولو کې د لاسوهنې د پېښو شمېر خورا لوړ وو. د جولای له ۲۷ نېټې څخه د نومبر تر ۱۱ نېټې پورې ۱۹۷ پېښې راپور شوي چې د ۲۰۲۲ د ورته مودې په اوږدو کې ۳۵۰ وو. د بشردوستانه پرسونل، شتمنیو او تاسیساتو په وړاندې د تاوتریخوالی او ګواښونو شاوخوا ۲۹ پېښې ثبت شوي، چې د ۲۰۲۲ د ورته مودې ۱۱۹ پېښو په پرتله کموالی ښيي. سربېره، د جنسیت اړوند ۱۰۴ پېښې ثبت شوي، چې ټولې یې طالب چارواکو ته منسوب شوي. په دغو پېښو کې په پروګرام کې لاسوهنه (۸۸ پېښې) او په بشردوستانه فعالیتونو کې د ښځو پر برخه اخیستنې محدودیتونه (۶۴ پېښې) شامل دي. د نومبر پر ۶ نېټه، د طالبانو د عدلیې وزارت د ۹۰ خیریه موسسو او ۷۹ اتحادیو لیست خپور کړ چې د جوازونو د پای ته رسیدو له امله له فعالیت څخه منع کړای شوي، او دغه بندیز به د جوازونو تر تجدیده به دوام ولري.

**شپږم: د مخدره توکو سره مبارزه**

۶۴. په ۲۰۲۳ کې د افغانستان تریاکو د کرکیلې په اړه سروې چې د نشه یي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر (یو ان او ډي سي) لخوا تر سره شوې، ښيي چې د ۲۰۲۲ په اپریل کې د طالب چارواکو لخوا پر مخدره توکو د بندیز له امله د تریاکو کښت ۹۵ سلنه کم شوی. په ۲۰۲۳ کال کې د هیواد په ټولو برخو کې د تریاکو کښت له ۲۳۳۰۰۰ هکتارو څخه ۱۰۸۰۰ هکتارو ته راټیټ شو، چې په پایله کې د تریاکو عرضه په روان زیږدیز کال کې د ۲۰۲۲ د ۶۲۰۰ ټنو څخه ۳۳۳ ټنو ته راټیټه شوه. د تریاکو په کرکیلې کې ګړندی کمښت د ډیرو زیان منونکو ټولنو لپاره چې د تریاکو د کښت پر عوایدو تکیه درلوده، فوري منفي بشري اغیزې درلودې. په ۲۰۲۳ کې سوداګرو ته د تریاکو د حاصلاتو پلور څخه باندې ۹۲ سلنې کمښت سره ۱۱۰ میلیون ډالره و چې په ۲۰۲۲ کې ۱.۳۶ میلیارد ډالرو ته رسیدلی و. سربیره پردې، د اقلیم بدلون له کبله د اوبو کمښت، وچکالۍ او په کرنیزو تولیداتو کې کموالی وضعیت لا خرابه کړی، خوراکي ناامنې یې زیاته کړې او د شتمنیو پلور او مهاجرت لامل ګرځیدلی دی.

۶۵. د ۲۰۲۳ په اګست میاشت کې د تریاکو بیه په بې سارې ډول لوړې کچې ته ورسیده، د وچو تریاکو اوسط ملي بیه ۴۱۷ ډالره فی کلوګرام او د تازه تریاکو اوسط ملي بیه ۲۷۵ ډالره فی کلو ګرام وه. د نرخونو په لوړوالي کې سیمه ایز توپېرونه لیدل شوي، په سویلي سیمه کې ترټولو نرخونه تر نورو ټولو سیمو لوړ ثبت شوي. د معلوماتو پر بنسټ د بندیز وروسته، د تریاکو زیرمې پلورل شوي او د هیروینو تولید لږ شوی دی. د سپتمبر په میاشت کې د نشه یي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر (یو ان او ډي سي) راپور په افغانستان کې د میتامفیتامین قاچاق کې زیاتوالی او د غیرقانوني میتامفیتامین تولید مخ په زیاتیدونکي ګواښ په ګوته کړی. د ۲۰۱۷ او ۲۰۲۱ کلونو تر منځ د نشه یي توکو نیول چې نږدې ۲.۵ ټنه و، ۲۹.۷ ټنو ته لوړ شوی او له دې کبله، د تریاکو دودیزو قاچاق ځای میتامفیتامین نیولی دی. د اګست له ۱ نېټې څخه د اکتوبر تر ۲۲ نېټې پورې، د نشه یي توکو نیول د ۲۰۲۲ کال د ورته مودې په پرتله ۱۴۰ سلنه ډیر شوي، چې لامل یې د میتامفیتامین د سوداګرۍ په وړاندې، په ځانګړې توګه په غور، فراه، هرات او ارزګان ولایتونو کې، د طالبانو هڅې وې.

۶۶. د نشه یي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر (یو ان او ډي سي) بدیل پرمختیایي پروګرام څخه ۴۲۸۲ زیان منونکي کورني ګټه پورته کوي، چې له همدې امله د حبوباتو په حاصلاتو کې د ۱۵ سلنه او د سابو په حاصلاتو کې ۲۵ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د نشه یي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر (یو ان او ډي سي) د دوه ملي سازمانونو او د روغتیا نړیوال سازمان سره په همکارۍ د هراړخیزې رواني روغتیا او د مخدره توکو د استعمال څخه رامنځ ته شوي اختلالاتو خدماتو یوه پروژه پیل کړې. د دې سربیره، یوناما او یو ان او ډي سي د مخدره توکو سره د مبارزې په اړه یوه کاري ډله جوړه کړه ترڅو مشورې او بالقوه اقداماتو ته ترویج او د مخدره توکو سره د مبارزې په اړه د طالبانو سره ګټورې همکارۍ ته وده ورکړي.

۶۷.	د سپتمبر په ۳۰ نېټه، د طالبانو سترې محکمې د مخدره توکو په اړه د جزا کړنلارو یوه ټولګه خپره کړه چې په کې د تریاکو، چرس او نورو مخدره توکو کښت، پلور، لیږد، تولید او مصرف لپاره مجازات شامل دي. د دغو جرایمو لپاره د حبس ټاکل شوې موده له یوې میاشتې څخه تر اوو کلونو پورې ده خو په کې د جریمې مجازات نشته.

**اووم: د ماموریت ملاتړ**

۶۸.	د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې، په یوناما کې د خالي بستونو کچه د نړیوالو کارمندانو لپاره ۱۰ سلنه، د ملګرو ملتونو داوطلبانو لپاره ۸ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۱۹ سلنه او د داخلي کارمندانو لپاره ۱۲ سلنه وه خو تصویب شوي خالي بستونه په ترتیب سره ۹ سلنه، ۱۰ سلنه، ۴ سلنه او ۴ سلنه وه. د ښځینه کارکوونکو تناسب د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۳۳ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضا کارانو / داوطلبانو لپاره ۳۶ سلنه، د ملي مسلکي افسرانو لپاره ۱۱ سلنه او د ملي کارمندانو لپاره ۸ سلنه وه. د ملګرو ملتونو د رضاکارانو ملي پروګرام د ځوانو افغان میرمنو لپاره چې غواړي د ملګرو ملتونو په کاري ځواک کې شامل شي یو مهم نل لیکه ده. د دې احتمال شته چې د ماهرو کارکوونکو د کمښت ننګونې او اړوند اقدامات مخ په وړاندې ماموریت لپاره ځینې ننګونې رامینځته کړي.

**اتم. مشاهدات**

۶۹.	افغانستان او د هغه چارواکي د تیرو څلورو لسیزو شخړو له پیچلو پایلو او د پرمختیا په وړاندې خنډونو سره لاس او ګریوان دي. په دې وروستیو میاشتو کې ستر اقتصادي فعالیتونه ورو شوي، چې په راتلونکي کې د ټیټې یا صفر ودې سناریو لامل کیدای شي. هیواد د نفوسو د زیاتوالي، محدود کورني سرچینې، مخ پر کمیدو مرستې او د اوبو کمښت، دوامداره وچکالي او سیلابونو په ګډون د اقلیم له قریب الوقوع خطرونو سره مخامخ دی. د چارواکو د محدودیتونو له امله ښځې او انجونې په پراخه او نامتناسب ډول لوږې او خوارځواکۍ سره مخ دي. ډیرې ستونزې طالبانو ته په میراث پاتې شوي چې د څو لسیزو ناسم مدیریت او اداري فساد او همدارنګه هغو شخړو له کبله رامینځ ته شوي چې د پرمختګ مخه یې ډب کړې. په هرصورت، د دې لپاره چې افغانستان د بشري غبرګون او دوامدارو او اوږد مهالو حل لارو څخه ګټه پورته کړي او د دغو ستونزو حل لاره، ټول شموله، اغیزمنه او حساب ورکوونکې حکومتولۍ او د نړیوالې ټولنې سره د اړیکو بیارغونې ته اړتیا لري.

۷۰.	د طالبانو په وینا د علماو ولایتي شوراګانو په جوړولو، په سیمه ایزه کچه د ځوانانو د شوراګانو د جوړولو اعلان او د ملي او د ډیرو سیمه ایزو فعالیتونو له لارې د دوی هڅې، د ولس سره واټن کم کړی دی. خو د علماوو له دغو شوراګانو څخه د ښځو او قومي او مذهبي اقلیتونو ایستل په حکومتولۍ کې د ګډون دوامداره عمومي نشتوالی څرګندوي. طالبانو د افغانستان په لویدیځ کې د سترې زلزلې او له پاکستان څخه د ډله ایزو راستنیدو او همدارنګه د پراخ قلت په ترڅ کې د اوبو او سړکونو د زیربناوو هڅو په اړه مثبت غبرګون ښودلی دی. خو تر دې دمه د طالبانو لخوا ترسره شوي اقدامات د افغانانو توقعات نه دي پوره کړي، څرنګه چې خلکو دغې څرګندونې، په ځانګړې توګه زده کړو ته د ښځو او نجونو د مساوي لاسرسي، بنسټیزو خدماتو، عدالت او همدا راز د ښځو د کارکولو او په عامه ژوند کې ګډون په اړه، ملګري ملتونو ته د عامه ناستو او فعالیتونو له لارې ابلاغ کړي دي.

۷۱.	طالبانو له پاکستان څخه د افغانانو د ډله ایزو راستنیدو په اړه یو همغږی او عملي غبرګون پیل کړی دی. په بیړه او په ډیره کمه موده کې د دومره زیاتو کسانو راستنیدل د هیواد پر اقتصاد او ټولنیز جوړښت سخت فشار راوړي. زه پر پاکستان غږ کوم چې پر خپل اوسني دریځ له سره غور وکړي او د یو داسې حل لارې لپاره چې نړیوال معیارونه او مکلفیتونه په پام کې ولري، او تر ټولو مهم، د اغېزمن شویو کسانو هوساینه په نظر کې ونیسي، د طالبانو سره په ګډه کار وکړي. طالبانو ملګرو ملتونو

ته ويلي چې د خپلو اتباعو د بېرته ستنيدو هرکلی کوي، خو غوښتنه کوي چې بېرته راستنېدنه کې باید اساسي انساني کرامت ته درناوي په پام کې ونيول شي.

۷۲. د مخ پر کمېدو مالي سرچينو او سيالو لومړيتوبونو سربېره، نړيواله ټولنه په دې ښه پوهيږي چې د افغانستان خلک د ملاتړ لپاره لا ډېرو هڅو ته اړتيا ده. د زلزلو او له پاکستان څخه د افغانانو د راستنيدو له امله د مرستو اړتيا نوره هم ډېره شوې. ملګري ملتونه د هيواد ترټولو زيان منونکو ټولنو ته په اصولي ډول حياتي بشري مرستو ته دوام ورکوي. زه له مرستندويانو غوښتنه کوم چې په بيړني ډول خپل ملاتړ تجديد کړي او په ځانګړې توګه د ژمي د رارسيدو نه مخکې د ژوند ژغورنې هڅو ته خپلې ژمنې پراخې کړي. همداشان زه په ټينګار سره طالبانو ته خپله غوښتنه تکراروم چې په ملي او نړيوالو نادولتي موسسو کې د افغان ښځينه مرستندويه کارکونکو او همدارنګه د ملګرو ملتونو په دفترونو کې پر افغان ښځينه کارمندانو خپل محدوديتونه لغوه کړي تر څو بشردوستانه عملياتو ته لاسرسي او اغيزمنتوب آسانه او د نړيوالې ټولنې انديښنې لرې شي.

۷۳. د طالبانو لخوا د بشري حقونو او د افغان ميرمنو او نجونو بنسټيزو آزاديو دوامداره محدوديت د بشري حقونو د نړيوال قانون له مخې له مکلفيتونه څخه سرغړونه ده. د راپورونو له مخې نجونې او ځوانې ميرمنې ټولو ښځينه مدرسو ته لاسرسي لري، خو يوناما نه ده توانيدلې چې په دغو ښوونيزو بنسټونو کې د ښځينه زده کوونکو شمير يا د ورکړل شوي تعليم کيفيت تصديق کړي، په ځانګړې توګه چې ايا په دغو مدرسو کې عصري مضامين شامل دي او که نه او دا چې دغه ښوونه نجونو ته هغومره فرصتونه برابروي څومره چې هلکانو لپاره برابروي. په دې لړ کې زه «ښځې په اسلام کې» تر سرليک د نړيوال کنفرانس هرکلی کوم چې د اسلامي همکاريو د سازمان له خوا د سعودي عربستان په کوربه توب تنظيم شوی و. زه د ۲۰۲۳ کال په پای کې، په ګمبيا کې ترسرکيدونکې راتلونکې اسلامي سرمشريزه کې د جدي سند تصويب ته، چې د مسلمانو ښځو او نارينه و برابر حقونه او مکلفيتونه تاييدوي، سترګې په لار يم.

۷۴. د طالبانو لخوا د رسنيو د کارکونکو او مدني ټولنې د فعالينو خپل سري نيول او توقيف او د رسنيو د سانسور او تعليق تر څو د هر ډول مخالفت مخه ونيول شي، چې د بشري حقونو نړيوالو مکلفيتونو سره په ټکر کې دي، د انديښنې وړ دي. زه په دې وروستيو کې د ځينو فعالانو د خوشې کيدو هرکلی کوم او له طالبانو څخه غواړم چې سمدستي د رسنيو د کارکونکو او د مدني ټولنې فعالانو، چې د بيان او نظر د ازادۍ د حقونو سره په سمون کار کوي، هر ډول خپلسري نيول او توقيف ودروي. زه د جسمي مجازاتو د تطبيق په اړه هم ژوره انديښنه لرم چې د شکنجې او نورو ظالمانه، غير انساني يا سپکاوي چلند يا مجازاتو په وړاندې کنوانسيون لاندې د افغانستان د مکلفيتونو سره په ټکر کې دي. طالبانو بايد د عمومي بخښنې په اړه پر خپله اعلان کړې ژمنې ولاړ واوسي او د پخوانيو حکومتي چارواکو او د افغانستان د ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو په وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو د تورونو په اړه شفاف او پر وخت تحقيقات وکړي او مرتکبين يې مجازات کړي.

۷۵. زه د طالبانو څخه غوښتنه کوم چې د توقيف ځايونو سره د چلند په اړه د يوناما د راپور سپارښتنې په پام کې ونيسي او تطبيق کړي، توقيف ځايونو کې د شکنجې او بد چلند د له منځه وړلو لپاره اقدامات وکړي، توقيف ځايونو ته د يوناما غير محدود لاسرسي ته اجازه ورکړي او د توقيف شويو کسانو لپاره د بنسټيزو طرزالعملونو د ساتنې تطبيق ښه کړي. زه پر نړيواله ټولنه هم غږ کوم چې د مناسبو مشورو او په ښه شوي پوهاوي لوړولو غونډو له لارې طالبانو سره د ملګرو ملتونو د لا ښکيلتيا ملاتړ وکړي ترڅو د قانون پلي کولو عمل نړيوالو نورمونو سره لا زيات مطابقت پيدا کړي. له دې کبله چې د طالبانو د بنديخانو چارواکي د بنديانو سره د چلند په اړه د نړيوالو نورمونو سره سم د لږ تر لږه معيارونو پوره کولو لپاره کافي معلومات نلري، نړيواله ټولنه بايد وهڅول شي چې د توقيف شويو وګړو د لومړنيو اړتياوو لکه د خوراکي توکو چمتو کول، طبي، تعليمي او د جامو اړتياوې پوره کول او په توقيف ځايونو کې د روغتيا او تعليم پرسونل ګمارلو لپاره مرستې لا زياتې کړي.

۷۶. د اقليم بدلون او د مخدره توکو سره د مبارزې په شان مسائل نه يوازې د افغانانو لپاره لوی ګواښ دی بلکې سيمه ايزې او نړيوالې پايلې هم لري. د اقليم د بدلون او د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې زه د طالبانو د هڅو او ښکېلتيا هرکلی کوم چې د ترياکو په کښت کې د پام وړ کمښت لامل شوي. له همدې کبله د کروندګرو لپاره بديل معيشت ته بيړنۍ اړتيا

ده. د افغانانو د باور پیدا کولو او ملاتړ لپاره د اصولي تګلارو پلټلو ته اړتیا ده ترڅو نړیوالې ټولنې ته وړتیا ورکړي چې د ګډو ګټو په داسې برخو کې معنی لرونکي ګامونه اوچت کړي.

۷۷. د اقتصادي فرصتونو نشتوالی بې وزلۍ او اقتصادي محرومیت لا دوامداره کوي. خصوصي سکټور، چې د ودې او د کار د فرصتونو اصلي محرک او په اوسنیو حالاتو کې د داخلي تقاضا د کمښت سره مخ دی، د نړیوالو تادیاتو او بازار ته د لاسرسي پورې اړوند ننګونو سره لاس او ګریوان دی. ملګري ملتونه غواړي چې د نوښتونو، لکه د کوچني تمویل سکتور د احیا، له لارې د خصوصي سکټور د پراختیا په وده کې رغنده رول ولوبوي. دا د افغان میرمنو په پیاوړتیا، د مخ پر ډیریدو کاري ځواک جذب او د فقر سره مبارزه کې هم مرسته کولی شي.

۷۸. زه نیت لرم چې په مناسب وخت کې د افغانستان لپاره د ځانګړې استازو یوه تعقیبي غونډه جوړه کړم تر څو د راتلونکي په اړه نړیواله اجماع پیاوړې کړای شي. زه د ځانګړي همغږي کوونکي، فریدون سینیرلی اوغلو څخه د امنیت شورا ۲۶۷۹ (۲۰۲۳) پریکړه لیک سره سم د ده د خپلواکې ارزونې او سپارښتنو مننه کوم، کوم چې کولی شي د یوه داسې اجماع د بحث لپاره د بنسټ په توګه کار ورکړي. همدارنګه زه د خپلې ځانګړې استازې روزا اوتونبایوا په مشرۍ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو کارکوونکو او د هغې د ټیم او د غیردولتي موسسو همکارانو د زړه له کومې ستاینه کوم چې د سختو ننګونو په چاپیریال کې د افغانستان د خلکو لپاره دوامداره فداکاري او خدمت کې بوخت دي.